مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ډاکټر لودویګ آدمک
ترجمه: رحمت آریا

۲۰۲۶/۰۵/۰۵

# د افغانستان بایوګرافیکي قاموس
## دوهم ټوک
### (دوه څلویښتمه برخه)

## محـمد آصف اکرام

د محـمد حسین زوی په ۱۹۵۱ز کال کې د ننګرهار په غزګۍ کې زیږېدلی دئ. په ۱۹۶۶ز کال کې د ننګرهار د ایمل خان له منځنی ښوونځي څخه فارغ سوی دئ؛ په ۱۹۶۹ز کال د ننګرهار له لیسي څخه فارغ سوی دئ؛ او په ۱۹۷۶ز کال کې ئـې د کابل پوهنتون د انجنیري له پوهنځي څخه خپل لیسانس په میخانیکي انجنیرۍ کې تر لاسه کړ. د کمپیوټر ساینس دري میاشتیني کورس ئې ونیوهٔ، ۱۹۷۹ز کال کې کلکته د (هند د احصائیي انستیتوت) [1] کې. له ۱۹۷۶ز د ۱۹۷۸ز کال د دسمبر تر میاشتي پورې د پلان په وزارت کې د مرکزي احصائـیي په ریاست کې د (داتا پروسسینګ) [2] د مدیریت مأمور. په ۱۹۷۸ز کال کې ئـې د کوچیانو په سروې کې برخه واخیسته. د ۱۹۷۹ز کال د اپریل په میاشت کې پاکستان ته وتـښتـېد. له ۱۹۸۴ تر ۱۹۸۵ز کال پورې په کویټي کې د افغان مهاجرینو لپاره د (AICF France) [3] د مأموریت د مشر اسیستانت او فیلډ آفیسر [4] په توګه کار کاوهٔ. د آزاد افغانستان د لیکوالانو د اتحادیې (وفا WUFA) [5] لیکوال.

**الـهام** : وګورئ : الهام

**علمي** : وګورئ : علمي

**التزام** : وګورئ : التزام

## محمد ابراهیم زاده ایما

د (هراتي سوداګر) محـمد مهدي زوی په ۱۹۳۱ز کال کې په هرات کې زیږېدلی دئ. تر لسم ټولګي پورې ئـې درس لوستی دئ. دی هغه سوداګر دئ چې وروسته مشهور شاعر سو.

[1] - Indian Statistical Institute, Calcutta
[2] -Date Processing
[3] Action Internationale Contre la Faim (AICF France)
[4] -Field Officer
[5] -Writers Union of Free Afghanistan


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

## سردار محمد عماد

په ۱۹۵۹ز کال کې په لغمان کې زېږېدلی دئ.  په ۱۹۶۵ز کال کې په لغمان کې له منځني ښوونځي څخه فارغ سوی دئ. په ۱۹۶۹ز کال کې ئـې خپله بکلوريا د هلمند د کرني له مسلکي ليسي څخه تر لاسه کړه. په ۱۹۷۳ز کال کې ئـې ليسانس د کابل پوهنتون د کرني له پوهنځي څخه تر لاسه کړ. د کرني د وزارت د ځنگلاتو د رياست تخنيکي آفيسر. له ۱۹۷۵ تر ۱۹۷۹ز کال پورې د کرني د پوهنځي پوهيالی. له مجاهدينو سره يو ځای سو.

**عنايت سراج** : وگورئ : عنايت سراج

**ارشاد** : وگورئ : ارشاد

**اسحاقزی** : وگورئ : اسحق زی

## اسمٰعيل بای

د ږتور غونډۍ د کشک کهنه قومي مشر. د خلقيانو د واکمنی پر مهال له خپل ورور ابراهيم سره يو ځای زندانی سوی وو. په ۱۹۸۰ز کال کې له مجاهدينو سره يو ځای سو خو وروسته بېرته د کابل له حکومت سره هم لاسی سو. په ۱۹۸۳ز کال کې د مجاهدينو له پلوه ووژل سو.

**اعتمادي** : وگورئ : اعتمادي

## احمد علي جاغوري

د نادر علي جاغوري ورور په ۱۹۰۴ز کال کې په جاغوري کې زېږېدلی دئ. په ۱۹۴۴ز کال کې د صافيانو د بغاوت پر مهال د پکتيا د گارنيزيون بولندوی. تر ۱۹۷۲ز کال پورې د دفاع په وزارت کې د پېرودنگ/ خريداری رئـيس. له ۱۹۷۳ تر ۱۹۷۴ز کال پورې د غزني د فرقې بولندوی. له ۱۹۷۴ تر ۱۹۷۷ز کال پورې د دفاع د وزارت د پوځي محکمې رئـيس. په ۱۹۷۷ز کال کې وفات سو.

## نادر علي جاغوري

په ۱۸۹۷ز کال کې زېږېدلی دئ. خصوصي زده کړې ئـې کړي دي. د جاغوري يو مخور. د ۱۹۴۰ز لسيزې په اوږدو کې د ولسي جرگې غړی. د ۱۹۵۰ او ۱۹۶۰ز لسيزو په اوږدو کې د تدارکاتو د رياست رئـيس. په ۱۹۶۴ز کال کې د اعيانو د مجلس غړی. له ۱۹۶۵ تر ۱۹۷۳ز کال پورې د مشرانو جرگې انتصابي غړی. وادۀ ئـې کړی دئ چې پينځـۀ زامن او درې لوڼي لري. مورنی ژبه ئـې دري ده. په ۱۹۷۹ز کال کې د نور محمد تره کي د واکمنی پر مهال اعدام سو.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ  maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

## سید حسن جګړن

لقب ئې جګړن او نوم ئې سید حسن دئ. د بهسودو، جاغوري د هزاره جبهې بولندوی. د حکومتي ځواکونو پر وړاندې په په بېلابېلو او ګڼ شمېر پوځي عملیاتو کې بریالی دئ. ویل کېږي چې له ۱۹۸۰ز کال راهیسې خپله ساحه د غزني له ولایت څخه په خود مختاره ډول سره اداره کوي. د ٫بهشتي له شورا٫ [6] سره متحد دئ.

## محمد ګل جهانګیري

د جان محمد زوی په ۱۹۳۳ز کال کې په جلال آباد کې زېږېدلی دئ. په ۱۹۵۸ز کال کې د کابل پوهنتون د حقوقو او سیاسي علومو له پوهنځي څخه د لیسانس په اخیستلو فارغ سو. په ۱۹۶۸ز کال کې ئې د لندن د آکسفورډ په پوهنتون کې د فیلوشیپ اسحقاقیه جایزه تر لاسه کړه. په ۱۹۵۸ز کال کې د باندنیو چارو په وزارت کې شامل سو. له ۱۹۵۹ تر ۱۹۶۳ز کال پورې په تورکیه کې د افغان سفارت دوهم سکرتر. له ۱۹۶۹ تر ۱۹۷۳ز کال پورې په پاکستان کې د افغان سفارت دوهم سکرتر. له ۱۹۷۳ تر ۱۹۷۸ز کال پورې د باندنیو چارو په وزارت کې د سیاسي چارو د لومړي مدیریت مدیر. په ۱۹۷۸ز کال کې په لندن کې د افغان سفارت شارژ دافیر. په ۱۹۸۲ز کال کې متقاعد سو او بیا د امریکا متحده ایالاتو ته کډه سو او د ۱۹۸۴ز کال د نوامبر په میاشت کې په امریکا کې وفات سو.

## عبدالصمد جاهد

د میرزا نظام الدین انصاري زوی. له خپل پلار څخه ئې پارسي ادبیات او خطاطي زده کړه او هم ئې د دودیزو ښانګو له علماوو څخه زده کړه ترلاسه کړه. په ۱۹۲۱ز کال کې د ٫روضات ِ شریف٫ د مدیریت، د مشرلیکوال په توګه وګومارل سو. په ۱۹۲۶ز کال کې د بیدار د مجلې او د مزار شریف د خپرونو لپارو د اعلانونو د لیکلو لیکوال او محرر. په ۱۹۲۶ز کال کې د مزار د مطبوعاتو رسمي مأمور او په ۱۹۵۰ز کال کې محرر. په ولسي جرګې کې د مزار استازی. لیکوال او شاعر.

## سید زمان الدین جیحون

د شاه حسین زوی په ۱۸۹۸ز کال (۱۳۱۶قمري) کې د بدخشان په دو آب شیوه کې زېږېدلی دئ. په شغنان کې ئې صوفیزم او ادبیات ولوستل. خپل ژوند ژواک ئې د بزګری له لارې پرمخ بیوۀ. مشهور شاعر سو. زنداني سو. مستعار ادبي نوم ئې عدیم شغناني دئ.

## ډاکټر احمد شاه جلال

په ۱۹۳۱ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ. په ۱۹۴۹ز کال کې د نجات له لیسي څخه فارغ سو. خپله دکتورا ئې په بایولوژي کې له جرمني څخه اخیستې ده. په ۱۹۵۹ز کال کې د کابل پوهنتون د ساینس د پوهنځي پوهاند. له ۱۹۶۰ تر ۱۹۶۳ز کال پورې د ساینس د پوهنځي ٫اکاډیمیک٫ مرستیال رئیس. له ۱۹۶۳ تر ۱۹۶۶ز کال پورې د نجات د لیسي مدیر. په ۱۹۶۹ز کال کې د جرمني په بن کې د فریدیش ویلهلم په پوهنتون کې مېلمه پروفیسر. په ۱۹۷۰ز کال کې

[6] -Shura of Beheshti



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

د کابل پوهنتون د ساینس د پوهنځي د زولوژي او پرازيتولوژي د ديپارتمنت مشر او پروفيسر. د ګڼ شمېر آثارو ليکوال. مورنۍ ژبه ئـې دري ده.

## ډاکټر بلبل شاه جلال

په ۱۹۲۵ز کال کې د کابل د بریکوټ په نو آباد کې زېږېدلی دئ , د احمد شاه جلال ورور دئ . خپله دکتورا ئـې له لويديځ جرمني څخه تر لاسه کړې ده. د ساينس د پوهنځي د کيميا د ډيپارتمنت پوهاند. د ساينس د پوهنځي رئـيس. د افغانستان د اټومي انرژي د کميسيون رئـيس. د کابل پوهنتون د سنا غړی. د افغانستان د علومو د اکاډيمی مرستيال رئـيس او سرپرست رئـيس. مورنۍ ژبه ئـې دري ده.

## ډاکټر عبداللطيف جلالي

د غلام جیلاني جلالي زوی په ۱۹۳۰ز کال کې په غزني کې زېږېدلی دئ. د کابل پوهنتون د حقوقو او سیاسي علومو له پوهنځي څخه ئـې د لیسانس له ترلاسه کولو وروسته خپله دکتورا په تاريخ کې په شوروي اتحاد کې واخسيته. د معلوماتو عمومي مدير او د نشراتو رئـيس. د راډيو افغانستان رئـيس. په ۱۹۸۰ز کال کې د افغانستان د علومو اکاډيمی اداري رئـيس. مورنۍ ژبه ئـې پښتو ده.

## غلام جيلاني جلالي

د مير عبدالستار زوی په ۱۸۹۶ز کال کې د غزني د شلګرې په ابراهيم زيو کې زېږېدلی دئ. تر ۱۷ کلنۍ پورې ئـې زده کړې له خپل پلار څخه تر لاسه کړې. وروسته کابل ته راغی او په شاهي مدرسې او سراجيه ښوونځي کې شامل سو. په نجراب کې قاضي وو. له ۱۹۲۴ تر ۱۹۲۸ز کال پورې د قطغن او وروسته د پکتیا د معارف مدير. له ۱۹۲۹ تر ۱۹۳۵ز کال پورې د مطبوعاتو د رياست رسمي مأمور. په ۱۹۳۳ز کال کې د کابل د ادبي ټولنې غړی. په ۱۹۴۳ز کال کې د پښتو اکاډيمی د انسايکلو پيديا د مديريت مدير. په ۱۹۴۵ز کال کې د دارالعلوم عربيه مدير. له ۱۹۴۶ تر ۱۹۵۷ز کال پورې د کابل پوهنتون د حقوقو د پوهنځي مدرس. له ۱۹۵۰ تر ۱۹۵۷ز کال پورې د اطلاعاتو او کلتور مدير او د غزني د سنايي ورځپاڼې مسؤول مدير. په ۱۹۵۷ز کال کې متقاعد سو. د شاعر او هم د افغانستان د تأريخ په اړه د ليکوال په نوم شهرت لري. مورنۍ ژبه ئـې پښتو ده. په ۱۹۸۰ز کال کې وفات سو.

**نور بيا**

## محـمد خان جلالر

کورنۍ ئـې د ۱۹۳۰ز کال په شاو خواوو کې د وزبيکستان- ژ, له فرغاني څخه افغانستان ته...

[قدرمنو لوستونکو! د ښاعلی رحمت آريا د آرشيف: لينک]


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په خير و لولـئ